# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې لسمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر دویمه | ۴۳۸مه گڼه


کتاب
۴ مخ

## ځوان زخمي پاچا



(ځوان زخمي پاچا)
ناول د ژوند د حقیقت په اړه جالبي خبري لري، ژوند ته مو د میني له زاويي رابولي، ځکه خو د کتاب لیکوال وايي: «زه د ژوند په راز مینې پوهولی یم».

## په ننگرهار کې د نږدې لسو میلیونو افغانیو په ارزښت د پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک شول



د کرنې وزارت د ننگرهار ولایت د کامې، کوز کونړ او بهسودو ولسوالیو د کرنې د پراختیا په پار، د دغو ولسوالیو له ۱۱ پرمختیایي شوراگانو سره د نږدې لسو میلیونو افغانیو په ارزښت د شنوخونو، سربندونو او کانالونو جوړولو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.
د دغه ولایت د چارواکو په خبره، په یادو پروژو کې د څلورو میلیونو او ۳۱۲ زرو افغانیو په ارزښت، د اوو لویو سوداگریزو شنو خونو جوړول هم شامل دي، چې هره یوه یې ۳۰۱ متر مربع ده او د ۲۱ بزگرو له لوري به ترې په موسمي حاصلاتو کې گټه واخیستل شي. هغه زیاته کړې چې د دغو پروژو په ډله کې د څلورو میلیونو او ۴۸۷ زرو افغانیو په لگښت، د ۱۳ کانالونو او سربندونو جوړول هم شامل دي، چې په جوړیدو سره به یې ۵۵۰ کسانو ته په مستقیم ډول گټه ورسیږي او دوه زره جریبه ځمکې ته به په منظم ډول اوبه ورکړل شي.

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## نبیل: ټاکنې دویم پړاو ته ځي، په لومړي پړاو کې بریالی نوماند نشته




د ۲۰۱۴ کال ټاکنیزه لانجه تکرارېږي؟ ۲ مخ

د کانونو په سکتور کې شته ستونزې او حللارې ۲ مخ

د تشهیر اهمیت ۵ مخ


## شکایتونو کمېسیون: د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو ډېرې شکایتونه جرمي بڼه لري

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، په مرکز او ولایتونو کې له دوی سره د ثبت شویو شکایتونو د تصنیف بندۍ لړۍ پیل شوې او هڅه کوي چې ټول شکایتونه په بې پرې او شفاف ډول وڅېړي.
د دغه کمېسیون مسوولینو ویلي، په هیواد کې د ولسمشرۍ د ټاکنو په تړاو ورسره څلور زره او ۳۶۷ شکایتونه ثبت شوي دي.
دوی ویلي، که څه هم تر دې مهاله ټول شکایتونه درجه بندي شوي نه دي، خو په خبره یې، هغه شکایتونه چې جرمي بڼه لري، د عدلي او قضایي ادارو لخوا به وڅېړل شي. د یاد کمېسیون منشي محمد قاسم الیاسي ویلي: «که درغلۍ د جرم په حد کې وي، زموږ دنده کشف ده او دوی به څارنوالۍ ته معرفي کړو او پاتې موارد یې په څارنوالۍ پورې اړه لري». د کمېسیون مسوولینو دغه راز ویلي، د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو تر ټولو زیات شکایتونه په کابل، هرات، جوزجان، ننگرهار او کندوز ولایتونو کې ثبت شوي، خو تر ټولو لږ یې بیا په نورستان کې شوي دي. د کمېسیون مسوولینو یوځل بیا له نوماندانو غوښتي چې د پایلو په تړاو له وړاندوینو ډډه وکړي؛ ځکه په وینا یې، دغه چاره تخلف بلل کېږي او له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي. د کمېسیون غړو ډاډ ورکړی چې ثبت شوي شکایتونه به په پوره شفافیت او بې طرفۍ څېړي او هېڅ ډول فشار ته نه تسلیمېږي. محمد قاسم الیاسي د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون منشي که څه هم کمېسیون تر دې مهاله د ثبت شویو شکایتونو په تړاو معلومات نه دي ورکړي، خو په ټولنیزو رسنیو کې په خپرو شویو ویډیوگانو کې لیدل کېږي چې د دولت جوړونې او ثبات او همپالنې ټاکنیزو ټیمونو په گټه ډېرې درغلۍ شوې دي.

## ډېر ژر به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي



۳ مخ

## حمدالله محب در حومۀ نشست سالانۀ سازمان ملل متحد، با سرمنشی این سازمان ملاقات کرده است



داکتر حمدالله محب مشاور امنیت ملی، در حومۀ نشست سالانۀ سازمان ملل متحد، با سرمنشی این سازمان ملاقات کرده است.
در خبرنامه ای که از سوی دفتر ماموریت دایمی افغانستان در نیویارک آمده، نوشته شده است که داکتر محب با انتونیو گوتریش سرمنشی سازمان ملل متحد ملاقات کرده است.
منبع افزوده است که در جریان این ملاقات، عادله راز نمایندۀ دایمی افغانستان و مقامات دیگر نیز حضور داشته اند.
در خبرنامه آمده است که در این ملاقات، پیرامون انتخابات ریاست جمهوری، وضعیت امنیتی و روند صلح در افغانستان بحث تفصیلی صورت گرفت.
سرمنشی سازمان ملل متحد، ابراز امیدواری کرده است که در افغانستان، صلح و ثبات پایدار تأمین شود.
از سوی دیگر، سرمنشی سازمان ملل متحد طی یک بیانیه از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری در افغانستان استقبال کرده است.
نامبرده از تمام افغان ها توصیف کرده که در شرایط دشوار امنیتی، به تحکیم دموکراسی رای داده اند.
بر اساس یک خبر دیگر، مشاور امنیت ملی افغانستان، با راستی میدریدوف وزیر خارجۀ ترکمنستان در شهر نیویارک، پیرامون روابط دوجانبه گفت‌وگو کرده است.
شورای امنیت ملی افغانستان می گوید که جانبین، در مورد همکاری های اقتصادی و اتصال منطقوی بحث کرده اند.


Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریځ

## د ۲۰۱۴ کال ټاکنیزه لانجه تکرارېږي؟

د میزان د شپږمې ټاکنې که له یوه اړخه د خلکو د کم ګډون په سبب له ستونزې سره مخ دي، له بله اړخه دا وېره شته چې ښايي د مطرحو کانديدانو ترمنځ يو ځل بيا لانجې پيل شي. دواړه پياوړي ټيمونه سر له اوسه په ټاکنو کې د بريا اعلان کوي. لومړی د دولت جوړونې د ټيم لومړي مرستيال امرالله صالح وويل چې دوی له ۶۰-۷۰ سلنه رايې ګټلې دي. وروسته د ثبات او همپالنې ټيم اعلان وکړ چې دوی ټاکنې ګټلې دي او دويم پړاو ته نه ځي. که څه هم ټاکنيزو کمېسيونو بيا بيا ويلي چې کانديدان بايد داسې اعلانونه ونه کړي، ځکه دا کار د دوی اړوند دی او دوی به د خلکو د رايو پر اساس وروستۍ پرېکړه کوي. د کانديدانو له دغو درېځونو ښکاري چې بيا به هم د ټاکنو د پايلو په اړه لانجه وي، خو دا لانجه څومره جدي ده او ايا د ۲۰۱۴ کال لانجه تکرارېږي؟

د ولسمشرۍ په دغو ټاکنو کې له يوه اړخه خورا کمو خلکو ګډون کړی دی، له بله اړخه ويل کيږي چې په کارول شوو رايو کې هم لويه برخه رايې جعلي دي او يا د هغو شرايطو پر اساس نه دي چې د ټاکنو کمېسيون وړاندې کړي وو. له همدې امله د رايو ورکوونکو شمېر نور هم کمېږي، لانجه هم را پورته کېږي. د ثبات او همپالنې ټيم ټينګار کوي چې دوی هغه رايې نه مني چې بايومټريک شوې نه وي. دوی ټينګار کوي چې پراخې درغلۍ شوې، غير بايومټريک رايې کارول شوي او دا دوی ته د منلو وړ نه دي. له بله اړخه د دولت جوړوونکي ټيم په غير مستقيم ډول کوشش کوي چې غير بايومټريک رايې هم اعتبار پيدا کړي او د دې لپاره د دوی ځينې پلويان خپل غږ هم پورته کوي. له همدې امله لانجه پر غير بايومټريک رايو ده. که غير بايومټريک رايې حساب شي، نو ښکاري چې دولت جوړوونکی ټيم مخکې دی او ښايي بريالی هم وي، خو که غير بايومټريک رايې حساب نه شي، نو ښايي د ثبات او همپالنې ټيم مخکښ وي او آن د بريا چانس يې شته. له همدې امله لانجه پر همدې چاره را څرخي.

د ټاکنو کمېسيون د پخوانيو پرېکړو پر اساس، رايې بايد بايومټريک وي او غير بايومټريک رايې نه منل کېږي. اوس داسې ښکاري چې د ټاکنو کمېسيون د دې پرېکړې له امله تر فشار لاندې دی. ښايي همدا فشار د دې سبب شوی وي چې د ټاکنو کمېسيون تر اوسه هم د رايو ورکوونکو کره شمېر اعلان نه کړي، ځکه د بايومټريک او غير بايومټريک رايې توپير خورا زيات دی. اوس چې د ټاکنو کمېسيون له يوه اړخه د پخوانيو شوو پرېکړو پر اساس بايد عمل وکړي او له بله اړخه تر فشار لاندې دی، نو ځکه ستونزه زياته شوې ده.

غير بايومټريک شوې رايې د دواړو اړخونو لپاره برخليک ټاکونکې دي او يو لوری به يې د منلو او بل به يې د نه منلو لپاره وروستۍ هڅې کوي. له همدې امله لانجې او ستونزې زياتېږي. له بله اړخه ټاکنيز کمېسيونونه کمزوري دي او نه شي کولی چې خپلې پخوانۍ پرېکړې يا عملي کړي او يا هم يو مخ پرې پښه کېږدي، نو ځکه لانجه زياتېږي او لري نه ده چې د ۲۰۱۴ ز کال بحران يو ځل بيا تکرار شي.

# د کانونو په سکټور کې شته ستونزې او حللارې

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

کانونه د طبعي سرچينو هغه برخه ده چې تر ځمکې لاندې پټه او ډېر اقتصادي ارزښت لري. افغانستان ۲۴ ډوله بېلابېل کانونه لري او د ناسپړل شويو طبيعي زېرمو له کبله د نړۍ له بډايو هېوادونو څخه ګڼل کيږي.

د افغانستان د طبيعي منابعو بډايه زېرمې د هېواد راتلونکي اقتصاد لپاره د هيلو يوه څرګنده نښه ده. پر کانونو ولاړ اقتصاد په افغانستان کې د بومي اقتصاد رغولو لپاره يوه محدوده ټاکنه شمېرل کيږي. پر همدې بنسټ، سياسي بې‌ثباتي، ناامني، د يوه واضح قانوني چوکاټ نشتوالی، اداره او د پاليسيو مديريت، د اساسي زېربناوو نشتوالی او له ګاونډيو هېوادونو سره د لېږد رالېږد هوکړه‌ليکونو، په هېواد کې د کانونو سکټور د پرمختګ مخه نيولې ده. خو د افغانانو د کانونو سکټور طبيعي زېرمې اوس هم په هېواد پورې د تړلي اقتصاد لپاره د يوه بديل او امتياز په توګه شمېرل کيږي.

د ۲۰۱۸ ز کال په اکتوبر مياشت کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ګډې خپلواکې کمېټې د کانونو په برخه کې د پراخ فساد د شتون په اړه د ارزونې راپور خپور کړ. نو له همدې امله مو په دغه تحليل کې: کانونو ته ځغلنده کتنه، د مېک سپارښتنې، د سپارښتنو ارزونه، په دې سکټور کې ولې فساد زيات دی او د حل لارې يې څه دي، خبرې کړې دي.

### د افغانستان کانونه او تر ځمکې لاندې زېرمې

د افغانستان د طبيعي منابعو ارزښت څه باندې درې ټرېليون امريکايي ډالره اټکل شوی دی، خو په شلمه او يوويشتمه پېړۍ کې دغو منابعو ته په بريالي ډول پراختيا نه ده ورکړل شوې. دا چې د افغانستان طبيعي منابع له اټکلي حالته بهر او پر تثبيت شوو زېرمو ډلبندي شوي، په دې برخه کې ځينې څېړنې شوې دي. دغه څېړنې ښيي چې افغانستان د فلزاتو، صنعتي منرالونو او ودانيزو توکو پراخې سرچينې لري، د اوسپنې، مسو، المونيم، قلعي، سُرب او جستو، سرو زرو، سپينو زرو، موليبدنوم، سلفر، شوکاڼي، ګچ ډبرو، کرومايټ او داسې نور کانونه په کې شامل دي.

د اټکل شوو شمېرو له مخې، د افغانستان د نورو زياتو منرالونو په منځ کې د اټکل په ډول ۲.۲ ميليارده کاني ډبرې، ۱.۳ ميليارد مټريک ټنه مرمر ډبرې، دېرش ميليونه مټريک ټنه مس، ۱.۴ مټريک ټنه خاورين نادر منرالونه او ۲۷۰۰ کيلوګرامه سره زر شامل دي، چې د منرالونو په لومړنيو څېړنو کې ۲۴ د پام وړ سيمې تثبيت شوې دي. د کانونو او پټروليم وزارت يادونه کړې ده چې يادې سيمې په ډېره کچه توکي لري چې د پانګونې پر وړاندې احتمالي خطرونه يې را کم کړي او داسې سيمې دي چې بايد په لومړي ګام کې داوطلبۍ ته وړاندې شي.

### د کانونو د استخراج ستونزې

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې په راپور کې د کانونو او د کانونو- پټروليم وزارت په برخه کې د فساد د شتون يادونه کړې، چې زيانمنې برخې يې عبارت دي له: د کاني زېرمو ناقانونه کېندنو او له اجازې پرته د بېلابېلو حکومتي ادارو له‌خوا د عوايدو راټولول، دغه راز د کانونو او پټروليم وزارت د ګومارنې په پروسه کې سياسي يا نورې غير مناسبې مداخلې چې خپلوۍ پالنې او واسطه بازۍ ته لاره هواروي، چې د ګومارنې په تړاو پرېکړې اغېزمنوي، د وزارت د کمزوري مديريت او ظرفيت په برخه کې ستونزې، د قراردادونو د ورکړې پر ناڅرګندې، اوږدې او کمزورې پروسې او د استخراج د معلوماتو د راټولولو په برخه کې شته ستونزې، په حکومتي پروسو کې د څارنې نشتوالی، د باکيفيته داخلي تفتيش نشتوالی، د قرارداد په مذاکراتو کې د نه شفافيت او جوړجاړي، د استخراجي صنعت د اغېزناک نظارت لپاره خلکو ته د محدوديت فرصت او د غير مناسب تفتيش مخنيوی او مجازاتو په برخو کې شته ستونزې هغه څه دي چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمېټې په ياد وزارت او د کانونو په برخه کې يادې کړې دي، چې د دې ستونزو د حل په موخه يادې ادارې ۱۶ سپارښتنې په دې برخه کې صادرې کړې هم دي. دغو عمومي سپارښتنو ته د مېک له لوري د ځيرکانه ازمايښت ( smart – testing) پر بنسټ، په ۱۹۱ تفصيلي سپارښتنو کې پراختيا ورکړل شوه، دوی ته تر ۲۴ مياشتو پورې وخت ورکړل شو چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

### اصلاحات او عملي شوې سپارښتنې

د کانونو او پټروليم وزارت له لوري د ۱۹۱ سپارښتنو له جملې څخه په تېرو څو مياشتو کې يوازې پر ۲۷ سپارښتنو باندې کار شوی، چې له دې جملې څخه يې ځينې عملي شوې او ځينې يې د عملي کېدو په حال کې دي. هغه برخې چې هغه عملي شوې دي عبارت دي له: د کانونو په برخه کې د نوي قانون توشېح، د کانونو د کيندنو په اړه د طرحې جوړول، له اړوندو ادارو سره د عوايدو د راټولولو په برخه کې د همکارۍ د زياتوالي په موخه د لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونو جوړول، د کانونو د قراردادونو په برخه کې د شفاف والي، زياتوالي او په وزارت کې د ګومارنې په برخه کې پاکوالی، د مېک اداري خوښي ښودلې چې ياد وزارت په تېرو څو مياشتو کې د ورکړل شويو سپارښتنو له جملې څخه ۱۴ سلنه يې عملي کړې دي، چې په عملي شويو برخو کې د کانونو د نوي قانون جوړول هغه څه دي چې د دې قانون په اساس په اسانۍ سره کېدلای شي، چې پاتې ۱۶۴ سپارښتنې هم په خپل وخت عملي شي.

موريثو مديناسلي، د فساد پر وړاندې د مبارزې او ارزونې خپلواکې ګډې کمېټې نړېوال مشاور دی، هغه وايي چې: «د کانونو په برخه کې جوړ شوی قانون د سيمې په سطحه د خاص اهميت درلودونکی قانون دی، چې د دې قانون په اساس به د کانونو د قرار دادونو د ورکړې او تطبيق په برخه کې پوره شفاف‌والی رامنځته کړي او هر څوک به وکولای شي چې د قراردادونو د لاسته راوړلو لپاره په پروسه کې برخه واخلي او د ياد قانون په اساس حکومت، نړيواله ټولنه او مدني ټولنې کولای شي چې د قرار دادونو د ورکړې او د کانونو له ايستلو نه څارنه وکړي چې دا ډول قانون د آسيا په سطحه بې ساری دی.

### په کانونو کې فساد ولې زيات دی؟

مافيا او زورواکي؛ د افغانستان د روڼتيا څار اداري د اجرايوي مشر د معلوماتو له مخې، د ملي شورا تقريباً ۵۰ غړو په حدودو کې له کانونو څخه په ناوړه استفادې تورن دي. همدا راز دا مهال غيرقانوني کيندنې د غير مسوولو وسله‌والو له‌خوا هم په لويه پيمانه تر سره کېږي.

کمه څارنه؛ د افغانستان د روڼتيا څار اداري (د هيلو لوټماران) راپور له مخې، چې د افغانستان د کانونو په اړه دی، د کانونو او پټروليم وزارت يوازې تش په نوم قرارداد کوي او بيا وروسته هېڅ نظارت نه پرې کوي، چې له کبله يې افغانستان ته هر کال په ميلياردونو افغانۍ تاوان اوړي چې د نوي قانون له توشېح سره به ياده ستونزه ډېره کمه شي.

ناسم مديريت؛ د سيګار د راپورونو له مخې، د کانونو په وزارت کې چې امريکا ۱۱ پروژې پلې کړې، ډېری يې خپلې هغه موخې نه دي تر لاسه کړې، چې پورته يې يادونه وشوه. که چېرې د کانونو وزارت په سمه توګه د دغو پروژو مديريت کړی وای، نو فساد به خپله کم شوی وای. همدا راز د کانونو په برخه کې افغان دولت هم سم مديريت نه دی کړی، همدا لامل دی چې په هېواد کې اوس‌مهال تقريباً ۱۴۰۰ کانونه په غيرقانوني ډول کيندل کېږي، چې په دغو کې ۷۱۰ يوازې د کابل ولايت په شاوخوا سيمو کې دي.

### د فساد د مخنيوي لارې چارې

په کانونو او پټروليم وزارت کې د شته فساد کچه د لاندې ګامونو په اوچتولو سره راکوزېدلی شي:

د کانونو او پټروليم وزارت بايد د کانونو نوی قانون پلی کړي او د قراردادونو د ورکړې په برخه کې د شته فساد مخه ونيسي.

د هغو کانونو په اړه چې حکومت پخوا پرېکړه کړې وه، چې جواز به يې ولايتي اداري ورکوي، بايد بېرته مرکزي شي، څو د ځايي زورواکو او مافيايي کړيو اغېز پرې کم شي.

د کانونو د قراردادونو د ورکړې سيستم بايد رقابتي او پرانيستی وي، څو هر څوک پوه شي چې دوی په کومو معيارونو قرارداد تر لاسه کولی شي او د کومو عواملو له کبله قرارداد له لاسه ورکوي.

ټول هغه قراردادونه چې د کانونو وزارت يې تر سره کوي، بايد د عامه پوهاوي په موخه د رسنيو له لارې خپاره کړای شي، که څه هم د کانونو او پټروليم وزارت تر اوسه ۴۰۰ قراردادونه پرليکه کړي؛ خو بيا هم ډېری قراردادونه پکې نشته. د ځينو قراردادونو مهمې برخې حذف شوې او هغه قراردادونه چې د امريکا دفاع وزارت TFBSO پکې ښکېل دی، تر اوسه نه دي پرليکه شوي.

اخري خبره دا چې تېرې ۱۸ کلنې جګړې د هېواد پر بېلابېلو برخو وېجاړوونکي اغېزې درلودې، چې د کانونو په برخه کې يې هم خپلې اغېزې درلودې، نو له همدې امله تر هغه وخته پورې چې په افغانستان کې تل پاتې سوله رانه شي، موږ به د همداسې ستونزو سره لاس او ګرېوان وو.

# اترا: ډېر ژر به په شمالي ولايتونو کې مخابراتي ستونزې حل شي

د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظيم اداري (اترا) ويلي، د هېواد په شمالي ولايتونو کندز، تخار، بدخشان او بغلان کې به ډېر ژر مخابراتي ستونزې حل کړي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو په دغو ولايتونو کې د مخابراتي شبکو ځينې سايټونه له منځه وړي او مخابراتي خدمتونه يې ټکني کړي دي.



يوې سرچينې د نوم نه ښودو په شرط ازدي راډيو ته ويلي چې په تېرو څو ورځو کې په دغو ولايتونو کې تر ۳۰ مخابراتي سايټونه سوځول شوي دي.

يادې سرچينې ويلي، دغه ګواښ مخابراتي شرکتونو ته نږدې پنځلس ميليونه ډالره زيان اړولی او که حالت دغسې دوام وکړي، وېره شته چې خصوصي مخابراتي شرکتونه چې په دغه هېواد کې خپل فعاليتونه بند او خپلې پانګې بهر ته ولېږدوي.

د سرچينې په خبره، په افغانستان کې نږدې هره ورځ د مخالفينو له خوا يوه مخابراتي پايه له منځه وړل کېږي چې قيمت يې له ۴۰ زرو ډالرو نيولې تر ۱۰۰ زره ډالرو رسېږي.

مخابراتي شرکتونه له يوې خوا د مخالفينو له ګواښ سره مخ دي او له بلې خوا حکومت دوی ته خبرداری ورکړی چې که خپل فعاليت د طالبانو په خوښه بند کړي، جوازونه به يې واخيستل شي.

په ورته وخت کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت ويلي چې په دې اړه انديښنې دي، خو په خبره يې، پانګوال بايد په يو جګړه ييز هېواد کې د پانګونې پر وخت خطرونه پر ځان ومني.

د دغه وزارت رسنيز سلاکار شېرشاه نوابي ازادي راډيو ته ويلي: «که چېرې مخابراتي شرکتونه قطع کېږي، دا خو دا معنا لري چې موږ (مخابراتي شرکتونه) له طالبانو سره بيعت کوو. اوس خو په افغانستان کې ټول خلک په ستونزه کې دي، هر څوک خطر سره مخ دي.»

نوابي دغه راز ويلي، درې ورځې وړاندې طالبانو د بغلان په اړوندو سيمو کې د نوري فايبر کېبل هم پرې کړی چې له امله يې په يوشمېر ولايتونو کې انټرنېټي خدمتونه په ټپه ولاړ دي.

# ولسمشریزې ټاکنې؛

## نبیل: ټاکنې دویم پړاو ته ځي، په لومړي پړاو کې بریالی نوماند نشته



د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو په اړه هر نوماند تازه ځرګندوني کوي. پرون رحمت الله نبیل په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې په لومړي پړاو کې هېڅ نوماند هم قانوني رایې نه دي پوره کړې، نو ټاکنې دویم پړاو ته ځي. د ولسمشریزو ټاکنو دغه نوماند همدا راز دا ادعا هم وکړه، چې حاکمو ټیمونو په ټاکنو کې پراخه درغلي کړې ده او باید ټاکنې په شفافه توګه وشمېرل شي. په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا وایي، چې ټاکنیز ټیمونه د ټاکنو د پایلو په اړه باید نظر ځرګند نه کړي. د کمېسیون په خبره، نوماندان دې د دوی پرېکړې ته په تمه شي. یوناما هم د ټاکنو کمېسیون دغه دریځ تایید کړی دی.

سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون، نوماندان د ټاکنو د پایلو په اړه له ځرګندونو منع کړي، خو بیا هم ټاکنیز ټیمونه د ځان د بریا او نورو د ماتې په اړه نظرونه ورکوي. په تېرو دوو ورځو کې څو نوماندانو د ټاکنو د پایلو په اړه نظر ځرګند کړی دی او ځانونه یې بریالي بللي دي. پرون تازه د ولسمشریزو ټاکنو نوماند رحمت الله نبیل بیا ویلي، چې ټاکنې به دویم پړاو ته لاړې شي. د ده په خبره، هېڅ نوماند پنځوس جمع یو رایه نه ده پوره کړې، نو ځکه د دې اړتیا ده چې ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي.

رحمت الله نبیل د ټاکنو پر کمېسیون هم غږ وکړ، چې پایلې دې ژر اعلان کړي او د دویم پړاو ټاکنو تر سره کولو ته دې تیاری ونیسي. د نوموړي په خبره، د دوی معلومات دا ښیي چې یوه نوماند هم ولسمشرۍ ته د رسېدو لپاره قانوني رایه نه ده پوره کړې، نو ځکه د دویم پړاو ټاکنو اړتیا شته ده.

رحمت الله نبیل پر هغو ټاکنیزو ټیمونو هم نیوکه وکړه، چې تر وخت مخکې یې خپله بریا اعلان کړې ده. نبیل وویل، دا له قانونه سرغړونه ده او د ټاکنو خپلواک کمېسیون یې باید تعقیب کړي. نوموړي پر دې هم ټینګار وکړ، چې یوازې بایومټریک شوې رایې باید وشمېرل شي او هغه رایې باید ټولې باطلې اعلان کړل شي، چې له بایومټریک پرته کارول شوې دي.

بلخوا د مشرانو جرګې د مشر تازه ځرګندونو هم غبرګون پارولی دی. نوموړي ویلي، د ټاکنو کمېسیون باید بې بایومټریکه رایې هم وشماري او هغه دې نه باطلوي. نوموړي په یو ډول کمېسیون ته ګواښ کړی چې ارو مرو باید دغه ډول رایې سمې وګڼل شي. په همدې تړاو د ولسمشریزو ټاکنو نوماند عبدالله عبدالله غبرګون ښودلی دی. ده ویلي، قانوني مراجع باید د مسلمیار دغه ځرګندونې تعقیب کړي او قانوني چلند دې ورسره وکړي. عبدالله عبدالله ویلي، هېڅوک له خپل قدرت او سیاسي موقف په استفادې د دې حق نه لري چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي وګواښي. عبدالله ویلي: ((مسلمیار باید د دغه ډول غیر مسوولانه ځرګندونو له امله له ټاکنیزو کمېسیونونو ښښنه وغواړي)).

د ولسمشریزو ټاکنو بل نوماند فرامرز تمنا بیا له کمېسیونه غوښتي چې تر ټاکلې نېټې دې مخکې د ټاکنو پایلې اعلان کړي. د نوموړي په خبره، په رامنځ ته شوې خلا کې ښایي د ولسواکۍ ضد کسان د خلکو اذهان مخشوش کړي او دا د هېواد په ګټه نه ده. تمنا دا هم ویلي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د غږو ګواښل هېڅا ته د منلو نه دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړو هم تېره ورځ ناوخته په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې بې بایومټریکه رایې دوی ته ارزښت نه لري او باطلې دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون غړو دا هم وویل، چې د ولسوالیو ټول ټاکنیز مواد د ولایتونو مرکزونو ته رسېدلي دي او د معلوماتو له مخې دوو میلیونو ۵۹۸ زرو او ۴۴۵ کسانو په ولسمشریزو ټاکنو کې برخه اخیستې ده.

په کابل کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر مشر تادامیچي یاماموتو هم پر نوماندانو غږ کړی، چې د ټاکنو کمېسیون تر پرېکړې وړاندې دې د پایلو په اړه ځرګندونې نه کوي. د ده په خبره، نوماندان دې پر کمېسیون باور ولري، ځکه دغه کمېسیون خپل کار په پوره شفافیت سر ته رسوي.

## مسلمیار: له بایومټریک پرته رایې به په زور د ټاکنو پر کمېسیون حساب کړو



د مشرانو جرګې رییس د ټاکنو کمېسیون د هغه دریځ په اړه چې ګواکې غیر بایومټریک رایې نه شمېري، ویلي چې له بایومټریک پرته رایې به په زور د ټاکنو پر کمېسیون حساب کړي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، چې له بایومټریک پرته رایې دوی ته د باور وړ نه دي، نو یوازې بایومټریک شوې رایې به شمېرل کېږي. کمېسیون دا هم ویلي چې د ټاکنو تر وخت مخکې او وروسته کارول شوې رایې هم باوري نه دي.

د یاد کمېسیون غړو پرون په یوه خبري ناسته کې وویل، چې وروستۍ پرېکړه به کمېسیون کوي او په پوره شفافیت او استقلالیت به پایلې اعلانوي.

د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار تېره ورځ د دې جرګې عمومي ناستې ته دغه راز ویلي، چې د ټاکنو کمېسیون باید هېوادوال د رایې ورکولو له حقه بې برخې نه کړي.

نوموړي د ټاکنو کمېسیون لخوا د غیر بایومټریک رایو د نه شمېرلو په غبرګون کې زیاته کړې: «موږ یې په پلار دغه رایې حساب کوو».

هغه ویلي، غیر بایومټریک رایې چې د امنیتي سرتېرو لخوا کارول شوې، تقلبي نه دي او باید وشمېرل شي.

د مشرانو جرګې رییس زیاته کړې، زیاتره کسان چې پېژندپاڼو یې ستېکر درلود، د رایې ورکوونکو په نوملړ کې د نوم نه پیدا کېدو له امله له رایې ورکولو بې برخې شوي دي.

مسلمیار د رایې ورکولو له حقه د خلکو بې برخې کول ملي خیانت بللی او ویلي یې دي: «هغه غیر بایومټریک رایې چې د ټاکنو کمېسیون د محلي کارکوونکو د پرېکړې په اساس د امنیتي سرتېرو لخوا کارول شوې دي، باید حساب شي». هغه ویلي، هر ډول شکایت باید ثبت او قانوني مرجع (د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون) ورته رسېدنه وکړي او هغه پرېکړه چې د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون لخوا وشي، حتماً یې ملاتړ کوي. بلخوا د مشرانو جرګې لومړي مرستیال محمد علم ایزدیار ویلي، د ولسمشرۍ ټاکنو پر مهال تر سره شوې درغلۍ باید په دقیق ډول وڅېړل شي، څو پاکې رایې له ناپاکو جلا شي.

## بهرنیو چارو وزارت: ډېر ژر به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شي



د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي ویلي چې د سیمې او نړۍ د هېوادونو لخوا د افغان سولې بهیر د یو ځل بیا پیلېدو هڅې پیل شوې او ډېر ژر به دغه پروسه پیل شي.

هغه ویلي چې د سولې پروسې پر ځرنګوالي بحث روان دی، څو دا ځل سولې ته ورسېږي او جګړې ته د پای ټکی کېښودل شي.

بلخوا احمدي په یاده خبري غونډه کې د یونان د کډوالو په یوه پنډغالي کې د دوو افغان کډوالو مړینه هم تایید کړې او ویلي یې دي چې په دې اړه څېړنې پیل شوې دي.

د نوموړي په خبره، په دې اړه یوه پلاوي ته دنده سپارل شوې او ډېر ژر به په دې برخه کې خپل کار پیل کړي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند دغه راز ویلي چې د افغانستان د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر او د تاجکستان د ولسمشر ترمنځ د هوکړې له مخې، تر اوسه تاجکستان ۴۸ افغان بندیان د افغانستان لوري ته سپارلي دي.

د هغه په خبره، یاد بندیان به خپله د بند پاتې موده په افغانستان کې تېروي.

په ورته وخت کې د بهرنیو چارو وزارت یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط پژواک ته ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړې استازي زلمي خلیلزاد له هند، ازبکستان، پاکستان، روسیې او چین سره د افغان سولې خبرو د بیا پیل په اړه خبرې کوي.

سرچینې زیاته کړې چې دوی یوې هوکړې ته نږدې شوي دي او ډېر ژر به بین الافغاني مذاکرات پیل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ په قطر کې لس میاشتنۍ خبرې تېره میاشت په دې اړه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له ټویټ وروسته وځنډول شوې.

ټرمپ دغه اقدام وروسته له هغې وکړ چې په کابل کې د یوه ځانمرګي برید له امله د یوه امریکایي په ګډون، د ناټو دوه سرتېري او لس افغانان ووژل شول. دغه راز افغان حکومت هم د ولسمشرۍ ټاکنو له امله د سولې ټولې هڅې درولې دي.

# شي جین پینګ: د نړۍ هېڅ ځواک د چین د پرمختګ مخه نه شي نیولی




د سینهووا خبري اژانس د خبر له مخې، د چین ولسي جمهوریت د جوړېدو د ۷۰مې کلیزې د نمانځنې مراسم، د اکتوبر په لومړۍ د بیجینګ په تیان ان من میدان کې تر سره شول. چینایانو د پوځي رسم ګذشت او ولسي قطارونو له لارې دغه جشن ونمانځه.

د دغه هېواد د کمونېست ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي، د دولت رییس او د مرکزي پوځي کمېسیون مشر شي جین پینګ په دغو مراسمو کې مهمه وینا وکړه او له رسم ګذشتونو څخه یې لیدنه وکړه.

د دغه هېواد د دولت رییس شي جین پینګ په خپله وینا کې وویل، پرونی چین د بشریت په تاریخ کې لیکل شوی، نننی چین د سلو میلیونو چینایانو په لاسونو جوړېږي او راتلونکی چین به حتماً لا ښکلی وي.

هغه وویل، د چین کمونېست ګوند، پوځ او د بېلابېلو قومونو ټول غړي دې په نږدېوالي سره د لومړۍ موخې د تر سره کېدو لپاره خپلې دندې پر غاړه واخلي او د چین ولسي جمهوریت د پرمختګ، د دوو سل کلیزو موخو د تر سره کېدو او د چیني ملت د بیاسمسورتیا لپاره دې هڅې وکړي.

د معلوماتو له مخې، د دغه هېواد جمهوریت د جوړېدو د ۷۰مې کلیزې په مراسمو کې ۱۵ پلیو ډلګیو، د پوځي تجهیزاتو او وسلو ۳۲ ډلګیو او د الوتکو ۱۱ ډلګیو ګډون کړی و.

شي وویل: «نن ورځ چین د سوسیالېستي هېواد په توګه د نړۍ په ختیځه برخه کې ولاړ دی او هېڅ ځواک د چین مقام ته زیان نه شي رسولی او د چینایانو او چیني ملت د پرمختګ مخه نه شي نیولی».

هغه زیاته کړه، د چین ولسي جمهوریت جوړېدو په وروستۍ زمانه کې د وروسته پاتې او بېوزله هېواد په توګه د چین برخلیک بدل کړی او چیني ملت د بیاسمسورتیا په لاره کې ګامونه پورته کړي دي.

هغه دغه راز په یادو مراسمو کې په خپله وینا کې د انقلاب د هغو پخوانیو اتلانو او قربانیانو ژوره یادونه وکړه، چې د چیني ملت د خپلواکۍ، د چینایانو د ازادۍ، د دولتي ځواکمنۍ او د خلکو د نېکمرغۍ لپاره یې د یادولو وړ خدمتونه کړي دي.

شي جېن پینګ له نورو هېوادونو هم مننه وکړه چې د چین پرمختګ ته پاملرنه کوي او ورڅخه یې ملاتړ کړی او کوي یې.

نوموړي پر دې ټینګار وکړ چې چین دې د پرمختګ په بهیر کې د سوله ییز یووالي او په یو هېواد کې د دوو نظامونو د پلي کولو پر تګلارو ټینګار وکړي، څو د هانکانګ او مکاو د دایمي سمسورتیا او ثبات او د تایوان تنګي د دواړو غاړو سوله ییز پرمختګ وساتل شي. نوموړي له چینایانو څخه غوښتنه وکړه چې د هېواد د یووالي د ساتلو لپاره ګډ کوښښونه وکړي.

## د کتـــاب خبــري

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جګړه




که څه هم اسلاماباد له وزیرستان څخه د افراطیانو د ویستلو یوه روښانه پالیسي جوړول غوښتل، خو پاکستاني نظامي او سیاسي مشـرانو د ځایي خلکو لپاره دا کار نه کاوه، ځکه نو دا سیمه د القاعدې پر مرکز بدله شوه.

دا حالت د افغانستان لپاره د اسلاماباد د پالیسۍ زېږول و. کلونه وړاندې د پرویز مشـرف د دوه مخي لوبې پر بنسټ، نوموړي طالبانو ته د (ښه او بد) نوم ورکړی و، هغوی چې په «افغانستان» کې یې «جګړه» کوله، «ښه طالبان» او هغه چې په «پاکستان» کې یې «جګړه» کوله، «بد طالبان» ګڼلي وو. د دې ډول لوبې پر وړاندې د یوه نقد په توګه پښتون سیاستوال محمود خان اڅکزي د راتلونکو ګواښونو اټکل کړی و. هغه د ۲۰۰۳ز کال په وروستیو کې له پاکستاني حقوق پوهانو پوښتنه کړې وه: ((موږ باید دا پوښتنه وکړو چې د چینایي یاغیانو مشـر زموږ په خاوره کې څه کوي؟ ولې د ازبکستان تر ټولو خطرناک یاغي دلته پټېږي؟ ولې له عربي نړۍ ټول مجرمین ستاسو خوا ته را روان دي؟ د پاکستان ځانګړنه په څه کې ده؟ پوځ دې د عملیاتو په نوم عام او بې ګناه وزیر نه وژني. پاکستان باید له خپلو ګاونډیانو سره ښې اړیکې ولري. په رښتینولۍ سره دې پر خپلو تېروتنو توبه وکاږي.))

اسلاماباد کې ډېرو لږو کسانو د نوموړي مشورو ته غوږ نیوه. امریکا په عراق کې بوخته وه، ځکه نو پاکستاني پالیسي جوړوونکو اټکل کړی و چې امریکایان به په افغانستان کې ماته وخوري، ځکه به طالبان په ستراتیژیکه توګه یو ځل بیا را ژوندي شي. یو بل پښتون سیاستوال، افراسیاب خټک ګواښ کړی و چې د دولت په نوم ګټو کې پښتانه قرباني کېدل، هغه لیکلي: ((د اوسني حکومت پخوانیو کړنو ته په کتو سره، ناسمه ده چې هغوی وایي قبایلي سیمو ته لاسرسی نه کېږي، ځکه یې برخلیک د یاغیانو په لاس کې کښېوتی دی. هغه اسطوره چې وایي دا ځمکه په هېڅا پورې اړه نه لري، له یادې سیمې د ترهګرو ځاله جوړه کړې ده.))

اسلاماباد کې هېچا دې ډول خبرداري ته پام نه کاوه. کله چې وانه کې لومړۍ جګړه پیل شوه، حکومت د طالبانو څلورو مشـرانو ته ۵۴۰۰۰۰ امریکایي ډالر د دې لپاره ورکړل چې د القاعدې پورونه پرې اداء کړي. له دې هم خطرناک هغه تړونونه وو چې حکومت د سولې په نوم له ځایي یاغیانو سره د ۲۰۰۴ز او ۲۰۰۶ز کلونو په منځ کې لاسلیک کړل. دا تړونونه د افراطیانو په ګټه شول، ځکه هغوی په کم وخت کې بیا سره منظم شول او پر نورو سیمو یې هم کنټرول ولګاوه. وروسته له هغه چې حکومت په سویلي وزیرستان کې د سولې تړونونه وکړل، شمالي وزیرستان ته یې مخه کړه.

د ۲۰۰٦ز کال د سپټمبر په ۵مه چې حکومت له طالبانو سره د سولې کوم تړون لاسلیک کړ، له مخې یې طالبانو ته د مشـروع او رسمي ګوند حیثیت ورکړل شو. د دې تړون له مخې طالبانو ته مکلفیت ورکړل شوی چې له عامه ادارو او تاسیساتو څخه به ساتنه کوي. په یوه فقره کې یې لیکل شوي وو: ((له افغانستان سره پر سرحد به هېڅ ډول جګړهییز تګ، راتګ نه کېږي.)) په بله فقره کې راغلي وو: ((ټول هغه بهرنیان چې په شمالي وزیرستان کې دي، باید له پاکستان څخه ووځي.)) خو په دې تړون کې د طالبانو د مکلفیت او ځواب ویلو لپاره هېڅ ډول میکانېزم نه و. د دې تړون له مخې دولت مکلف و چې ټولې هغه وسلې او وسایل چې د عملیاتو پر مهال یې نیولي وو، بېرته طالبانو ته تسلیم کړي او له دې سیمو به خپل ټول سرتېري باسي.

پر دې تړون ډېرې نیوکې ځکه وشوې چې ګڼي طالبانو ته پکې ډېر امتیازات ورکول شوي، خو اسلاماباد بیا یاد تړونونه خپله بریا وګڼله. په وزیرستان کې دا ډول بې پروا کړنو، پاکستان له کړکېچ سره مخ کړ. لیرې او پس پاتې وزیرستان لا هم بې برخلیکه دي، له کلونو نظامي عملیاتو، د سولې تړونونو، کډوالیو او وژنو وروسته لا هم په خطرناکو څپو کې ښکېل دی. له ۲۰۰۳ز کال راهیسې هر دوهم کس، یا په ټوله کې نیم میلیون وګړي په دې سیمو کې بې ځایه شوي. له دې ډلې یې له ۲۰۰۹ز کال را وروسته ۴۰۰۰۰۰ محسود (مسید) وګړي له خپلو سیمو څخه ټانک او اسماعیل خان ډېرې ولسوالیو ته کډوال شوي، هغوی غواړي، بېرته خپلو کلیو کې عادي ژوند ته ور وګرځي. کلونه وړاندې وزیرستان کې د جګړې بل شوی اور د پاکستان نورو سیمو ته هم غزېدلی دی. د حکومت بې پروایي او د ستونزو د حل لپاره د نه پاملرنې په سبب دا سیمه د جګړې په لوی ناورین بدله کړې. **دوام لري...**

# ځوان زخمي پاچا

◄ اکسوس کتابپلورنځی




(ځوان زخمي پاچا) ناول د یو ځوان پاچا دی چې کلونه کېږي په خپله خاوره کې پاچاهي کوي. بې پروا، باغي، په ژوند پوه، له مینې سره بلد او د ژوند په ټولو چارو یې سر خلاص دی. دی نو په پوره مانا قاطع پاچا دی.

زخمي پاچا د ښار پر هر واټ په اونۍ کې یو ځل راګرځي، ان کله کله د ښار پر یوه یوه تیږه هم پام کوي، یوې یوې ونې ته یې فکر دی، د هر دوکاندار اقتصادي وضعیت ور معلوم دی، خپل هېواد، خپل خلک دومره پرې ګران دي، لکه خپل وجود. دی له زړه غواړي چې د هېواد خلک یې دې په ارامۍ ژوند وکړي، دی هره ورځ د دې لپاره کار کوي، څو یې د هېواد وګړي له ژونده خوند واخلي، دی یوازې د خلکو لپاره مادیات نه برابروي، بلکې غواړي د خپل هېواد وګړو ته په اصلي مانا د ژوند کولو چل هم وښیي. دی ژوند ته د مینې له زاویې ګوري، ځکه خو وایي، زه د ژوند په راز مینې پوه کړی یم، هغې ما ته ژوند ښودلی دی، له کومه مې چې مینه شروع کړې، نور د ژوند د یوې لحظې په اړه هم بې تفاوته نه یم پاتې شوی. ما هره شېبه غوښتې چې د خپلې معشوقې هیله پوره کړم، دا دې هیلې پوره کول مې عادت شوي، ځکه خو یې له برکته د ډېرو نورو هیلو په پوره کولو هم توانېدلی یم؛ ځکه خو په دې اړه یو ځای کې وایي: «دې ګرده نړۍ کې یو ته یې یو هغه څوک چې ته ورسره خوشاله یې، ته ورسره د سترړیا دمه کوي او ته ورسره مینه لرې، نور هېڅوک نشته، په دې ګردې نړۍ همدغه څوک، هېڅ وخت له لاسه ورنه کړې، که دې چېرته له لاسه ورکړ، ژوندی به وې، خو ژوند به نه کوې.

په ناامنو او وروسته پاتې ټولنو کې له خپلو معشوقو/ معوشوقانو هم ډېر مه خپه کېږئ، دوی له ډېرو نه پوهېدو سره سره، په مینه کې هم نه پوهېږي، په ژوند کولو هم نه پوهېږي، کوښښ وکړئ ویې زغمی او د مینې چل ورو ورو ور وښیئ».

کتاب کې راغي: «ځوان زخمي پاچا خپله بې پروا معشوقه لاس ترلې ځان ته ور وغوښتله، پاچا چې ولیده، ګوري نازولې معشوقه یې ځورول شوې او مړوندونه یې تک شنه وو. پاچا خپلې ډکې سترګې ښکته واچولې او سر ته یې لاس ونیو، ځان سره یې غلي وویل، دا جینۍ چا دومره ځورولې، په دې شکل چا راوستلې، هغه کس دستي اعدام کړئ....

جینۍ له عسکرو ځان وشانده، پاچا ته په ډېره غوسه راغله، پښو ته یې کېناسته، په ژړغوني اواز یې پاچا ته وویل، زه هم تا سره ستا د پاچاهۍ په اندازه مینه کوم، خو زه نه غواړم ستا شم، غواړم خلکو ته ووایم چې «یوه جینۍ کولی شي د یو ستر هیواد ستر پاچا په ژړا کړي او مخ یې په اوښکو لوند کړي».

پاچا د جینۍ په مقابل کې بد چلند نه کوي، پاڅېږي، هغه له لاسه نیسي او خپلې هغې کوټې ته ځي، چې له کړکیو یې د دربار د باغ ښایسته ونې او ګلان ښکاري، په شنو ونو کې د مرغانو اوازونه اورېدل کېږي او د دربار په واټونو کار کوونکي چالاک چالاک د دفترونو خوا ته روان دي.

پاچا له معشوقې سره مینه کوي، هغې ته تر ډېرو خبرو ورتېرېږي، هغه په مستقیم ډول د نقد اشاره نه کوي، د ژوند او د ژوند د ارزښت په اړه ورته ډېرې کیسې کوي، لنډه دا معشوقه یې د مینې په چل پوهېږي او له پاچا سره تر اخره ښه ژوند کوي.

(ځوان زخمي پاچا) ناول د ژوند د حقیقت په اړه جالبې خبرې لري، ژوند ته مو د مینې له زاویې رابولي، ځکه خو وایي: «زه د ژوند په راز مینې پوهولی یم».

مینه وال کولای شي یاد کتاب په اکسوس او د ښار له لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | دیویډ جونز(بغدادی پیر) | نصیر احمد احمدي | ۱۵۰ؒف |
| ۲ | لطفا موفقیت را باور کنید! | محمود نامنی | ۱۳۰ؒف |
| ۳ | راز لکنت زبان | کامبخش فرهمند پور | ۲۰۰ؒف |
| ٤ | ادبیات جهان | نورمحمد احمدزی | ۱۸۰ؒف |
| ٥ | Basics of Educational RESEARCH | Pohand Noor Mohammad Ahmadzai | ۲۰۰ؒف |
| ٦ | Coherent english gramma | Toor gul toorzan dana | ۴۰۰ؒف |
| ۷ | دنیای سوفی | یوستین گوردر/ آرزو خلجی مقیم | ۵۰۰ؒف |
| ۸ | قرآنی ریاضي | نثار احمد صمد واصفي | ۲۰۰ؒف |
| ۹ | رحمته العالمین | محمد احمد جاد الموالي/محمد گل نوري | ۲۲۰ؒف |
| ۱۰ | ذهنی پوښتنې او ځوابونه۵۰۰ | عبید الله مسلم | ۵۰ؒف |
| ۱۱ | بس تمځای شعري ټولګه | عبدالهادي احمدزی | ۲۰۰ؒف |
| ۱۲ | ځوان زخمي پاچا ناول | عبدالهادي احمدزی | ۱۵۰ؒف |
| ۱۳ | شاهین | نسیم حجازی/محمد زبیر شفیقی | ۱۲۰ؒف |
| ۱٤ | لحظه ای که او ترکم کرد | سوزان لوییس/افسانه مقدم | ۳۰۰ؒف |
| ۱۵ | عاشق مرگ تو هستم | پیتر جیمز/ علی اکبر قاری نیت | ۳۵۰ؒف |
| ۱٦ | بازان ماتیږي جاسوسي ناول | امیرعشیري/،جبار فراز | ۲۰۰ؒف |
| ۱۷ | آیین همسرداری | دوروتی کارنگی/ دکتر قدیر گلکاریان | ۱۲۰ؒف |
| ۱۸ | د مطالعې غوره لارې | محمد حکیم علمي | ۷۰ؒف |
| ۱۹ | دانشکده کسب و کار | رابرت کیوساکی | ۳۲۰ؒف |
| ۲۰ | فوق العاده باش | رابین شارما | ۱۷۰ؒف |
| ۲۱ | بازی زندگی | فلورانس اسکاول شین | ۲۳۰ؒف |
| ۲۲ | قدرت ذهن ناخوداگاه شما | جوزف مور فی | ۳۰۰ؒف |
| ۲۳ | توشاکاری دختر | ریچل هالیس | ۲۳۰ؒف |
| ۲٤ | دیگه عذر خواهی نکن دختر | ریچل هالیس | ۱۸۰ؒف |
| ۲۵ | راز | رندابرن/محمد صادق سبط الشیخ | ۱۰۰ؒف |
| ۲٦ | شما برنده اید | شیو کهرا/فاطمه رضایی ملک خیلی | ۲۸۰ؒف |
| ۲۷ | 101راه نظم بخشی به امور خود | دایانا بوهر/قدیر گلیکاریان | ۱۲۰ؒف |
| ۲۸ | تک و تنها با هم در پاریس | جوجو مویز/ نفیسه معتکف | ۲۳۰ؒف |
| ۲۹ | چگونه دیگران شیفته خود کنید! | نیکولاس بوتمن/هایده غلامی | ۱۰۰ؒف |
| ۳۰ | اثر مرکب | نیلوفر آهنگران | ۱۵۰ؒف |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۳۵ |
| € | ۸۵,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۵ |
| £ | ۹٦,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانۍ

# د تشهیر اهمیت

**لیکنه: ګلاب بهار - درېیمه برخه**

د بازار په سیستم کې تشهیر مهم رول لوبوي، تشهیر زموږ په اقتصادي او ټولنیز ژوند کې تر دې حده سرایت کړی دی، چې دا اوسمهال زموږ د ژوند یوه برخه ګرځېدلې دی. د پیدا کوونکو، پرچون فروش مستهلکینو او ټولو په لحاظ د تشهیر اهمیت مختلف دی، لکه:

۱ـ د پیدا کوونکي (کارخونه لرونکي) لپاره د تشهیر اهمیت
۲ـ د پرچون فروش لپاره د تشهیر اهمیت
۳ـ د لګښت کوونکي لپاره د تشهیر اهمیت
۴ـ د ټولنې لپاره د تشهیر اهمیت
۵ـ د بازارموندنې لپاره د تشهیر اهمیت

**اول- د پیدا کوونکو (مؤلدینو) لپاره د تشهیر اهمیت**

له پیدا کوونکي څخه موخه کارخونه لرونکي، تولید کوونکي او یا مارکېټ ته د شیانو وړاندې کوونکي دي، چې لاندې اغېزې پرې لري:
الف- د پلورلو په پروسه کې زیاتوالی: څرنګه چې د تشهیر په واسطه ډېر خلک د شیانو په اړه خبرتیا تر لاسه کوي، ځکه نو تشهیر د شیانو په خرڅلاو کې د زیاتوالي سبب ګرځي.
ب- مستقله تقاضا: د ډېرو شیانو په تقاضا کې تشهیر مرستندویه ثابتېږي، د بېلګې په ډول، پخوا به (یخ کافي) یوازې په یخ موسم کې څښل کېدله، خو اوس د کولډ کافي (یخې کافي) په وجه د ګرمۍ په وخت کې هم د هغې استعمال زیات شوی دی.
ج- په زېرمه کولو کې کمښت او د پانګې ژر راستنېدل: د تشهیر له برکته شیان په ډېره کچه خرڅېږي، چې د همدې پروسې په مټ لګول شوې سرمایه بېرته راستنېږي، د زیات خرڅلاو له کبله له پیدا کوونکي سره ډېر کم شیان په زېرمه کې پاتې کېږي.
د- په بیو کې کمښت: د زیاتې تقاضا په وجه شیان په ډېره کچه جوړېږي او تولیدېږي او په زېرمه کې ډېر بدلون راځي، چې له همدې امله د شیانو په تولید د کارخونې لرونکي کم لګښت کېږي او په همدې اساس په بیو کې د کمښت لپاره اساني وي.
د- د وقار پر ځای ساتل: د منظم تشهیر په اساس په ډېره کچه د شیانو د پلورل کېدو له کبله په کمپنۍ کې د پور د تادیه کولو صلاحیت پیدا کېږي او پر کمپنۍ باندې د خلکو اعتماد زیاتېږي او تشهیر د کمپنۍ د نیکنامۍ سبب ګرځي.
هـ- د مالونو پلورلو په وړتیا کې زیاتوالی: د تشهیر په واسطه په مستقیم ډول په پلورلو کې زیاتوالی راځي، څرنګه چې د تشهیر په ذریعه پلورونکو ته له وړاندې د شیانو په اړه پوهه وي، نو پلورونکي ته په پلورلو کې اسانتیا پیدا کېږي او هغه په ښه ډول خریدار د شیانو اخیستلو ته هڅوي.
و- د کارکوونکو په مورال کې زیاتوالی: تشهیر په کمپنۍ کې د کار کولو پر اخلاقي رویه باندې مثبت اغېز کوي. هغه اداري چې په غوره ډول د خپلو شیانو تشهیر کوي، د داسې اداري په کار کوونکو کې د برترۍ احساس پیدا کېږي، لکه په پاکستان کې چې د لیور برادرز کمپنۍ او (ICI) کمپنۍ کار کوونکي چې د نورو کمپنیو له کار کوونکو څخه ځان پورته ګڼي. په پورته ډول د تشهیر له ذکر شویو ګټو څخه دا جوتېږي چې تشهیر خپله بیه په خپله ادا کوي.

**دویم- د پرچون فروش لپاره د تشهیر اهمیت**

الف- د ارتباط وسیله: له عوامو سره د پرچون فروش د ارتباط یوازینۍ وسیله تشهیر دی، چې په همدې وسیله پرچون فروشونکي خلک له خپل شتون او له هغه ډول شیانو څخه چې دوی، یې تجارت کوي، خبروي.
ب- د پانګې راګرځېدنه: پر له پسې او منظم تشهیر د شیانو د پلورلو او د زیاتې ګټې کولو باعث ګرځي.
ج- د کـاروبار په لګښتونو کې کمی: له دې کبله چې د تشهیر لګښت کارخونه لرونکی ورکوي، نو په دې برخه کې د پرچون فروش په لګښت کې سپما کېږي.
د- په عزت او وقار کې زیاتوالی: د تشهیر په واسطه د پرچون فروش په عزت او اعتبار کې زیاتوالی راځي. څرنګه چې پرچون فروش د دغو شیانو کاروبار کوي او دا شیان د کیفیت په لحاظ غوره دي او په پراخه کچه یې تشهیر کېږي؛ ځکه نو د کارخونه لرونکي په شان پرچون فروش ته هم دغه تشهیر ګټه رسوي.

**درېیم- د مستهلکینو لپاه د تشهیر ا همیت**

الف- د اخیستلو اسانتیا: د تشهېر عمل د لګښت کوونکو د اخیستلو په عمل کې اسانتیا پیدا کوي. د تشهیر په واسطه مستهلکینو ته دا معلومېږي، چې له کومه ځایه او په کومې بیې شیان خریداري کړي، د شیانو په باره کې اړین معلومات له تشهیر څخه په لاس راځي، چې په دې ترتیب د خریدارۍ په هکله پرېکړه اسانېږي.
ب- د غیر ضروري متوسطینو اخراجول: له دې چې د تشهیر هدف په مستقیم ډول د مستهلکینو پام راګرځول دي، ځکه نو د اضافي متوسطینو له منځه د وتلو باعث ګرځي، چې په دې ترتیب سره د کارخونه لرونکو لګښت کم او ګټه یې زیاتېږي.
ج- مستهلکینو ته تعلیم ورکول: د تشهیر په واسطه مستهلکینو ته پر پخوانیو شیانو باندې د کنټرول په حاصلولو کې مرسته کېږي او مستهلکینو ته د نویو شیانو او د هغې د استعمال په هکله تعلیم او زده کړه ورکول کېږي، چې په دې سره د مستهلکینو د ژوند کیفیت لوړتیا مومي.
د- غوره کیفیت: د تشهیر په واسطه د شیانو د کیفیت او کوالیټۍ د ښه کولو زمینه برابرېږي. کله چې مستهلکین پر دې ډاډمن شي، کوم شیان چې دوی یې اخلي، د لوړ کیفیت او ښې کوالیټۍ لرونکي دي، د کومو چې تشهیر شوی دی؛ نو هغوی د خریدارۍ عمل جاري ساتي.
هـ- د مستهلکینو سپما: د تشهیر له موخو څخه یوه مهمه موخه د شیانو پر ګټورتوب باندې د توجه متمرکزول دي. کله چې مستهلک د کوم شي له کوالیټۍ او کیفیت څخه ډاډه کېږي، نو د دغه څیز په بدل کې زیاتې بیې ورکولو ته هم چمتو کېږي، خو که د خریدارۍ پر مهال هغه له دې خبرې خبر شي، چې د همدې خصوصیاتو درلودونکی شی په کمې بیې سره هم تر لاسه کېدای شي، نو هرومرو د هغه کمې بیې لرونکی شی اخلي او دا د هغه لپاره د سپما باعث ګرځي.

**څلورم- د ټولنې لپاره د تشهیر اهمیت**

الف- په کاروبار کې زیاتوالی: تشهیر د خلکو لپاره د کاروبار برابرولو یوه ګټوره وسیله ده. د صنعتي پرمختیا په وجه په روزګار کې پراختیا پیدا شوې ده، چې په تولیداتو کې د زیاتوالي باعث هم ګرځېدلی دی. د دې ډېرو تولیداتو د جذبولو لپاره د سترو مارکېټونو اړتیا ده، له پیداواري توکو سره د ټولو خلکو د اشنا کولو لپاره د تشهیر ضرورت دی، د تشهیر په پروسه کې ډېر خلک کاروبار پیدا کوي، چې دا عمل د بېکارۍ له پای ته رسولو سره مرسته کوي.
ب- د چاپ یا پرېس ازادي: د پرېس لپاره تشهیر د عوایدو یوه مناسبه ذریعه ده. د عوایدو په واسطه پرېس خپل ازاد حیثیت برقرار ساتلی شي. هېڅ ډله په اقتصادي فشار سره نه شـي کولای چې له پرېس څخه غلطه ګټه واخلي، که تشهیر په منظم او پرله پسې ډول وي، نو پرېس په بیه کې کموالی راولي.
ج- د فن کارانو یا هنرمندانو مرسته کول: د تشهیري عمل د پرمخ بیولو لپاره په پراخه کچه فنکار (هنرمند) لیکوالان او ویناوال کارول کېږي، چې په دې سره د خلکو په ایجادي او نوښتي صلاحیتونو کې اضافه والی کېږي. په تشهیر کې له فن کارانو څخه په کار اخیستو سره د هغوی مرسته کېږي او حوصلې یې لوړېږي او د ټولنې کولتور هم وده کوي.
د- د ژوند د کیفیت ښه کول: تشهیر نه یوازې دا چې مستهلکینو ته زده کړه ورکوي، بلکې د شیانو د استعمال او د کاروبار لپاره د زمینې برابرولو یوه وسیله هم ده. په هغې کې د ښه والي او بهترۍ له کبله، په کمه بیه او غوره کیفیت مختلف شیان هم حاصلېږي، چې دا ټول صفتونه د ژوند د کیفیت په لوړولو کې مرستندوی ثابتېږي.

**پنځم- د بازارموندنې لپاره د تشهیر اهمیت**

پوهېږو چې د توکو او چوپړتیاوو د یو تولیدي واحد رامنځ ته کېدل د وګړو د شته تقاضا ځواب دی. په بازارموندنه کې هم تر ټولو اړین څه د وګړو د نوموړې تقاضا ډېروالی او د خاموشه تقاضا را ژوندي کول دي. د دغه چارې تر ټولو ستره وسیله اعلانات او سوداګریز تبلیغات دي. له بله اړخه تبلیغات د بازارموندنې د پراختیا یا promotion د برخې مهم جز دی او یوازینۍ لاره ده، چې په وسیله یې کاروباري وګړي له خپل تولید څخه خبر او د ځان لپاره مشتریان پیدا کوي. په لنډه توګه به ووایو چې سوداګریز اعلانات په داسې ډول د خپلو توکو او چوپړونو ښودل دي، چې د پېرودونکو او لګښت کوونکو پام ورته را واوړي او هغوی د اعلانېدونکو توکو پېرودنې ته وهڅول شي.
د اعلان یا اشتهار یوازینۍ موخه دا نه ده چې یو توکی یا چوپړ وپلورل شي؛ بلکې د اشتهار اصلي موخه له خپلو توکو څخه د ممکنه پېرودونکو خبرول دي.
کله چې یو کـاروبار او کمپنۍ کوم نوی تولید را منځته کوي، نو له نوموړي تولید څخه د وګړو د خبرولو یوازینۍ لار اشتهار او تبلیغ ده. له اشتهار پرته به هغه وګړي چې دغه نوی تولید یې اړتیا وي، په اسانۍ سره پوره کوي، تر ډېره بریده ناخبره وي او د کمپنۍ د تولید خرڅلاو به هم تر ډېره بریده کم وي. پر همدې بنسټ ویلای شو چې سوداګریز اعلانات د بازار د دواړو لوریو (پلورونکو او پېرودونکو) لپاره ستر ارزښت لري. د پېرودونکو لپاره یې یوه ګټه دا هم ده، چې د بېلابېلو کمپنیو د اعلاناتو له مخې د هغوی د توکو او چوپړتیاوو د پرتله کولو له لارې کولای شي د هغوی ترمنځ تر ټولو غوره تولید او چوپړ را ونیسي. د نوي تولید ترڅنګ، اشتهارات د شته تولید د بېلابېلو ډولونو یا brands اړوند هم خلک خبروي او هغوی ته د یو تولید بېلابېلو ښو او ډولونو د څرنګوالي او قېمت اړوند معلومات ورکوي. د بېلګې په ډول یې په هېواد کې د مخابراتي کمپنیو له لوري د انټرنېټ د لاسرسي خدمتونه یادولای شو چې بېلابېلې ښې یې بېلابېل سرعتونه او بیې لري. کله چې د لنډمهال لپاره یو کـاروبار د خپلو توکو په بیو کې تخفیف راولي، نو یوازینۍ لار چې وګړي له خپل دغه تخفیف څخه خبروي، سوداګریز اعلانات دي. په اعلاناتو کې د یو تولید د پلور او یا چوپړ وړاندې کولو د تخفیف د ورکړې موده هم ټاکل کېږي او په یوه لنډه زماني مقطع کې د همدغه لنډې مودې د ټاکلو په زور د خپلو تولیداتو د پلور حجم په لویه پیمانه زیاتوي.
د اشتهار بله مهمه ښېګڼه خلکو ته په سوداګریزه سیالۍ کې د خپل مخکېوالي ښودل دي؛ خو دا په هغه صورت کې چې کله سوداګریز اعلانات په داسې ښه وړاندې شي، چې رښتیا هم لیدونکي او مخاطبین پر نورو د خپل لوړوالي اړوند ډاډه وکړي. نن سبا دغه چاره یو څه ستونزمنه ځکه ده چې یو ځانګړی توکی د بېلابېلو کمپنیو له لوري تولید او پېرودونکو ته یې اعلانات وړاندې کېږي. خو بیا هم د یو کـاروبار رقابتي مزیت هېڅکله هم په بشپړ ډول له مینځه نه شي تللی او کېدای شي چې د بېلابېلو لارو لکه اشتهار او نورو په وسیله یو کـاروبار تر خپلو نورو سیالانو مخکې شي.
د یو اټکل له مخې، په یو کال کې له ۴۰۰ بېلیونو امریکایي ډالرو څخه پورته پانګه یوازې پر سوداګریزو اعلاناتو لګول کېږي.
د دغه کار یوه ګټه دا هم ده چې په دغه برخه کې بېلابېل وګړي او کـاروبارونه پر دندو او کار بوخت کېږي، تر دې چې نن سبا اعلانات یا اشتهارات د علومو د یوې ځانګړې څانګې په توګه په بېلابېلو اکاډمیکو او ښوونیزو مرکزونو کې لوستل کېږي او په دې برخه کې وګړي د تخصص تر پړاوه زده کړې کوي.
د ټولنیزو موضوعاتو او ناخوالو اړوند هم تبلیغات مثبت رول لري او ډېر روغتیایي پیغامونه د همدغو اشتهاراتو په وسیله وګړو ته لېږدول کېږي. همدارنګه د حکومتونو نورې اړینې خبرتیاوې لکه قانوني مکلفیتونه او نور د اعلاناتو په وسیله د وګړو تر غوږونو رسول کېږي.
د دغو ټولو ښېګڼو تر څنګ، تبلیغات زیان اړوونکي هم دي. کله چې په اعلاناتو کې یو توکی له خپل اصلي کیفیت څخه په لوړ کیفیت مشتریانو ته ور وپېژندل شي، نو دا چاره د اشتهار یو غیر اخلاقي بڼه او د مشتریانو په زیان ده. همدارنګه د اشتهاراتو هغه بڼه چې غیر قانوني او روغتیا ته زیان اړوونکي تولیدات لکه مخدره توکي او نور تشهیروي، دا هم د ټولنو په زیان دي.

**د تشهیر موخې**

**د تشهیر عمل د لاندې موخو په پام کې نیولو سره تر سره کېږي:**

الف- اطلاع ورکول او پلورل: د تشهیر تر ټولو غټه موخه د خلکو خبرول او پر هغوی پلورل دي، د تشهیر په ذریعه د شیانو له ګټورتوب، استعمال، د ځانګړو خصوصیاتو، په نورو نمونو له غوره توب څخه په مطلق ډول مطلع کوي. د تشهیر موخه دا هم ده چې د خریدارانو پر چلند اغېز وشي او د شیانو د خرڅلاو کچه زیاته شي.
په مستقیم ډول په پلورلو کې مرسته کول: د مستقیم ډول پلورلو لپاره، تشهیر هم د یوې وسیلې په توګه کارول کېږي، څرنګه چې د تشهیر په واسطه مشتریانو ته له مخکې نه د شیانو د خصوصیاتو او استعمال په اړه خبرتیا حاصلېږي؛ نو له همدې امله د تشهیر په واسطه د شیانو د پلورلو لپاره زمینه برابرېږي. د مشتریانو ډاډه کول او د هغوی شک لرې کول: څرنګه چې په مارکېټ کې ډېر شیان موجود وي، په دغو شیانو کې د غوره کولو لپاره تشهیر له خریدارانو سره مرسته کوي او هغوی ډاډه کوي او دا تسلي ورکوي چې کوم معلومات چې د شیانو په باب شوي دي، هغه سم دي چې په دې سره د خریدارانو شک لرې کېږي او د شیانو په اړه د هغوی ګډوډ خیالات سمون پیدا کوي.
د وېشلو چینلونو منظمول: د شیانو د تشهیر په اهدافو کې یو دا هم دی چې تجارتي متوسطین (عمده فروش، پرچون فروش او ټول خلک چې د وېش په چینلونو کې کار کوي) هغوی ټول باید هوښیار اوسي. د تشهیر په واسطه چې د شیانو کومې ښېګڼې او مؤثرتوب ښودل شوی دی، له هغې څخه د تشهیر په واسطه اوس ګټه اخیستل کېږي.
د کمپنۍ لپاره د ښه تصور پیداکول: د تشهیر په ذریعه کمپنۍ د خلکو په اذهانو کې د مثبت تصور پیدا کولو هڅه کوي او د دې لپاره په داسې پروګرامونو لاس پورې کوي، چې د ټولنې او مشتریانو د ګټې، حفاظت او بهبود سبب ګرځي.

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۸ د تلې لسمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر دویمه | ٤۳۸مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۸ | ۳۰ | ۲۸ | ۳۲ | ۲۸ |
| ۱۳ | ۱۳ | ۱٦ | ۱۵ | ۲۰ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۵ | لمر ختل ۰۵:٤۷ | ماسپښین ۱۱:٤٤ | مازدیګر ۰۳:۰٦ | ماښام ۰۵:۳۹ | ماخوستن ۰۷:۰۲

## نړۍ




# شي جين پينګ: د نړۍ هېڅ ځواک د چين د پرمختګ مخه نه شي نيولی


۳

## په هند کې د راوتلو سېلابونو له امله د قربانيانو شمېر ۱۵۰ ته رسېدلی دی



د هند په شمال کې د سختو اورښتونو او سېلابونو له امله د مړو شويو کسانو شمېر ۱۵۰ ته رسېدلی دی.
د راپورونو له مخې، د دغه هېواد په شمال کې درنو سېلابونو د ګنګا سيند ځينې برخې ويجاړې کړې او ډېر زيان يې اړولی دی.
بلخوا چارواکو ويلي چې د دغه هېواد په بهار ايالت کې هم په تېرو څو ورځو کې درنو اورښتونو خلکو ته مالي او ځاني زيانونه اړولي، خو په خبره يې چې ببړنيو ژغورونکو ډلو په زرګونو زيانمن شوي خلک ژغورلي دي.
په خواله رسنيو کې په خپرو شويو عکسونو کې د دغه هېواد په بېلابېلو ايالتونو کې ځايي اوسېدونکي ښکاري چې پر سړکونو روان دي او اوبه يې تر زنګنو پورې رسېدلې دي.
دغه راز چارواکو ويلي چې په اتراپردېش ايالت کې هم سېلابونو خلکو ته درانه زيانونه اړولي دي. د دوی په خبره، د دغه ايالت په يوه زندان کې د اوبو له ننوتلو وروسته، سلګونه بنديان بل ځای ته لېږدول شوي دي.
په ورته وخت کې د هند د هوا پېژندنې اداري ويلي چې سږني بارانونه له تېرو ۱۵ کالو راهيسې بې ساري دي او د نورو اورښتونو د اورېدو له کبله يې د دغه هېواد د احتمالي زيانمنېدونکو سيمو خلکو ته خبرداری ورکړی دی.
چارواکو ويلي، په دغو دواړو ايالتونو کې رېل ګاډي خدمتونه، روغتيايي خدمتونه، ښوونيزې چارې په ټپه درېدلې او په ډېريو ځايونو کې د برېښنا مزي هم پرې شوي دي.

## ايران: که سعودي په رښتيني ډول د چلند د بدلون په لټه کې وي، هرکلی يې کوو





تهران ويلي، په داسې حال کې چې له رياض سره يې اړيکې ترينګلې دي، د دربيمګړو هېوادونو له لارې يې د سعودي عربستان پيغامونه تر لاسه کړي دي. د ايران د ولسمشر وياند علي ربيعي د دغه هېواد خبرياالانو ته ويلي چې که سعودي عربستان په رښتيني ډول د چلند د بدلون په لټه کې وي، ايران يې هرکلی کوي.
خو نوموړي په دې تړاو نور جزيات نه دي ورکړي چې سعودي عربستان په دغو پيغامونو کې څه ليکلي دي.
نوموړي دغه راز زياته کړې چې د هورمز د سولې د پلان برخه هم د سعودي عربستان په څېر له ګاونډيو سره عملي کېدای شي، نو ايران د دې پروسې هرکلی کوي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په منځني ختيځ کې د کړکېچ په پراخېدو سره، د دواړو هېوادونو اړيکې د بل هر وخت په پرتله خرابې شوې دي.
سعودي پر ايران تور پورې کوي چې د سپټمبر په ۱۴مه يې د دغه هېواد د تېلو پر سترو مرکزونو بريدونه کړي، خو ايران بيا دغه تورونه رد کړي دي.
که څه هم سعودي عربستان ويلي چې سره له دې چې دوی له ايران سره د لانجې سوله‌ييز هواری غواړي، خو که د يادو بريدونو په اړه د رياض پلټنې يقيني کړي چې دا بريدونه د ايران له خاورې شوي، نو دا به د دوی په خبره د جګړې يو اقدام وي او مناسب ځواب به ورکړي.

## وزارت معادن: اگر ۲۰ شرکت قرضه های خود را پرداخت نکند، به څارنوالی معرفی می شوند

وزارت معادن و پترولیم افغانستان می گوید که اگر ۲۰ شرکت مقروض این وزارت، از سهولت های ایجاد شده برای پرداخت قرضه ها استفاده نکنند، ضمن لغوه جوازهای شان به څارنوالی معرفی می شوند.
سیحون کامگار رئیس اطلاعات و ارتباط عامه وزارت معادن و پترولیم، به آژانس خبری پژواک گفته است که در مجموع ۳۷ شرکت که در بخش های استخراج سنگ مرمر، زغال سنگ، کرومایت، نمک و طلا فعالیت دارند، در مجموع حدود ۷۵۷ میلیون افغانی از بابت حق الامتیاز، جریمۀ تاخیر تکس و کرایۀ زمین از سال ۱۳۹۲ تا سال ۱۳۹۷ مقروض می باشند.
او افزوده است که سهولت ها و امکانات ویژه را برای این شرکت ها فراهم کرده است؛ تا آمادۀ پرداخت قرضه های شان در اقساط مناسب شوند.
منبع بدون ارائه جزیات گفته است که از جملۀ شرکت های یادشده، ۱۷ شرکتی که حدود ۲۵۰ میلیون افغانی مقروض می باشند، از سهولت های اقساط قروض استفاده کرده، یک مقدار پول قرضه های شان را پرداخت نموده و متعهد شده اند که متباقی پول را نیز می پردازند.
اما بر بنیاد معلومات کامگار، بیست شرکت دیگری که در مجموع ۵۰۷ میلیون افغانی مقروض می باشند، تا هنوز آماده پرداخت قرضه های شان نشده اند.
او افزوده است که این شرکت ها می توانند درخواستی های شان را به کمیته مقروضیت این وزارت ارائه کنند و پلان های شان را برای پرداخت قرضه ها به شکل اقساط مشخص سازند.
وی علاوه کرد که شورای عالی اقتصادی، ۱٦ شرکت مقروض را به سه کتگوری تقسیم بندی کرده است؛ تا قرضه های شان را در جریان یک تا پنج سال پرداخت نمایند.

## ژوند


## کوم خواړه مو پر غذايي مسموميت اخته کوي؟



### د چرګ ښوروا

تر هغه چې د ناروغ نس ناستی او استفراق کمېږي، ښه ده چې د کلکو خوړو له ورکولو ډډه وشي او داسې خواړه ورکړل شي چې په اسانۍ سره هضم شي او غوړ يې کم وي. کله يې چې روغتيايي وضعيت په بشپړ ډول ښه شي، نو کولای شي چې بېرته خپل عادي غذايي رژيم ته ور وګرځي.
د دې لپاره چې له غذايي مسموميت څخه خوندي پاتې شی، نو بايد چې خواړه د ټولو صحي تګلارو په پام کې نيولو سره تيار کړی. د ټولو هغو خوړو له خوړلو ډډه وکړئ، چې په پاکوالي کې يې شک لری. هغه خواړه چې پاخه خوړل کېږي، که کافي حرارت ور نه کړل شي او وخوړل شي، کېدای شي د مسموميت لامل شي، نو دغه ډول خوړو ته په کافي اندازه حرارت ورکړئ.
له پخلي او ډوډۍ خوړلو مخکې هرو مرو خپل لاسونه ومينځئ. غوښې او هګيو ته په کافي اندازه حرارت ورکړئ څو ښه پاخه شي. مېوې او سبزۍ له خوړلو مخکې په مالګه يا پوټاشيمو کې ښه ومينځئ. د غذايي مسموميت ناروغي که څه هم د اندېښنې وړ ده، خو ډېری ناروغان يې په ۴۸ ساعتونو کې روغتيا مومي. په ډېرو کمو مواردو کې دا ناروغي ډېرې بدې پايلې لري.

## له ذهن څخه د خپل کور په څېر ساتنه وکړئ!



تاسې هر يو د دې لپاره چې په ارامۍ ويده شی او کور ته مو کوم ناپېژانده کس درنه شي، د کور دروازه او د کوټو ورونه مو ټينګوی، ځکه دا ستاسې د اوسېدو ځای او ستاسې کور دی. د ذهن په اړه مو هم بايد داسې يوه تګلاره ولری. دا زما ذهن، دا زما اُستوګنځی دی. زه نه غواړم چې منفي فکرونه مې ذهن ته لاره پيدا کړي. زه غواړم د خپل ذهن کنټرول په خپل واک کې واخلم. زه غواړم يوازې د ښو هيلو، بريا او خوښۍ فکرونو ته په خپل ذهن کې ځای ورکړم.
په دې برخه کې يوه بله بېلګه هم ورکولای شو. تاسې يوه لويه او لوړ پوړيزه ودانۍ لرئ. فکر وکړئ د دې ودانۍ اتيا سلنه مو د نشه يي توکو قاچاق وړونکو او د نورو ناقانونه کړنو عاملينو ته په کرايه ورکړې ده او پاتې شل سلنه مو داسې کسانو ته ورکړې چې د قانون په چوکاټ کې ژوند کوي او قانون ته درناوی کوي. څه وخت وروسته قاچاق وړونکي او ملګري دا شل سلنه قانوني خلک له منځه وړي او دوی ټول واک په خپل لاس کې اخلي. دغه څه زموږ د ذهن په اړه صدق کوي.